**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د اسلامي واده د مستند فلم په خپرولو کې دروغجن حقیقت!**

**(ژباړه)**




د ۲۰۱۷م د نومبر په لومړۍ نېټه د «انګلیس ۴ تلویزیوني» چینل د «اسلامي واده حقیقت» تر سرلیک لاندې یو مستند فلم خپور کړ. په دغه مستند فلم کې یې پر اسلامي نکاح تور لګولی، چې د مسلمانو ښځو حقوق نه شي ورکولی. نو ځکه مسلمانان باید اړ شي، چې د انګلیس د حقوقي نظام پر اساس د واده شوو ښځو د حقوقو ساتلو لپاره د دغه هېواد له قوانینو سره سم واده وکړي. پر دغه مستند فلم باندې په تدبر سره لاندې حقیقتونو ته رسېدلی شو:

په دغې خپرونه کې هڅه شوې، چې اسلامي نکاح تر پوښتنې لاندې راولي او غواړي ثابته کړي، چې د ښځو د حقونو د ترلاسه کولو لپاره نکاح ګټه نه لري؛ خو دا په حقیقت کې د انګلیس د سیکولري دولت د قوانینو نیمګړتیاوې په ګوته کوي، چې تر اوسه نه دی توانېدلی، چې د اسلامي او غیر اسلامي ودونو قوانین پرتله کړي.

د هغو مسلمانو ښځو حالت چې د نکاح له لارې یې واده کړی او نه دي توانېدلې، چې د خپل واده حقوق تر لاسه کړي، په حقیقت کې د انګلیس سیکولري نظام نیمګړتیاوې ښیي، نه د اسلام؛ ځکه د انګلیس دغه سیکولر نظام یې

په پلي کولو سره د ټولو عقایدو لپاره ګټور نشي تمامېدلی. همدارنګه غربي سیکولر نظامونو پر ځینو اسلامي ارزښتونو لکه: نقاب او حجاب بندیزونه لګولي؛ په داسې حال کې چې اسلام د خلافت دولت په واسطه د خپل نظام په پلي کولو سره غیر مسلمانانو ته اجازه ورکوله، چې له کوم مزاحمت پرته خپل ودونه له خپلو عقیدو سره سم تر سره کړي؛ خو غربي سیکولران په ډېرې بې شرمۍ سره دغه نظام د ښځو د حقوقو د ساتلو لپاره ظالمانه او وروسته پاتې ښيي.

د یادولو وړ ده، چې په دغه پروګرام کې ډېرو فرهنګیانو، حقوق پوهانو او د انګلیس هېواد حقوقی هیئت دا منلې، چې دغه قوانین په ۱۸۳۶م کې د واده لپاره جوړ شوي، د ۲۱مې پېړۍ لپاره نه دي او د داسې ټولنې ستونزې نشي حلولی، چې له بېلابېلو مذهبي عقیدو څخه جوړه شوې وي. دا یې یو بل دلیل دی، چې د سیکولر او د بشر په لاس جوړو شوو قوانینو اصلي کمزوري په ګوته کوي، چې په هر وخت او ځای کې د بشري ستونزو په حلولو کې پاتې راغلي دي او د بې ارزښته کېدو له امله بدلېږي؛ خو اسلامي قوانین ثابت او د بدلون وړ نه دي، ځکه چې په هر وخت او ځای کې د بشریت له فطرت سره سم دي او اصلاحاتو ته اړتیا نه لري. دغه خاصیت او ارزښت یوازې په هغه نظام کې نغښتی، چې د ټولو کایناتو د خالق په واسطه، چې له تېر، حال او راتلونکې څخه خبر دی جوړ شوی. هغه سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿قُلْ أَتُعَلِّمُونَ اللَّهَ بِدِينِكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾

[حجرات: ۱٦]

***ژباړه:*** *ووایه: ایا الله سبحانه وتعالی مو له خپل ایمان څخه خبروئ؟ په داسې حال کې چې هغه پر ټولو هغو شیانو، چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، پوهېږي او الله سبحانه وتعالی له هر څه نه خبر دی.*

د پراخ داخلي تاوتریخوالي شتون، د ښځو د واده د حقوقو ستونزې او ناوړه چلند، چې په ټولیزه کچه یې انګرېزي واده شوې مرمنې تر پوزې راوستلې دي، طلاق او د کورني جوړښت له منځه تللو موضوعات د دغه هېواد د سیکولر قوانینو د ثبوت لپاره، چې په ټولنه کې د بریالیو ودونو د فضا له جوړولو څخه نه یوازې چې عاجز پاتې دي، بلکې د کورني جوړښتونو د له منځه تللو ناورین یې هم رامنځته کړی دی. پر دې سربېره د دغه حالت په زیاتېدو کې نور بېلابېل عوامل هم رول لري، لومړی جنسي ازادۍ، چې نامشروع اړیکو ته یې لار اواره کړې ده؛

دویم فیمینستي مفکوره؛ لکه: جنسي مساوات، چې د ښځو او نرانو په ژوند کې یې حقوقي رول ګډوډ کړی او په ګډ ژوند کې یې له یو بل سره د مرستې پر ځای د سیالۍ فضا جوړه کړې ده.

هغه ښځې چې له خپلو مېړونو څخه طلاق غواړي، په محکمه کې له ډېرو قانوني لګښتونو سره مخ کېږي. همداراز ځینې نور موضوعات لکه: په انګلیس کې «د اولاد او طلاق د حقوقو ساتلو» له نظام څخه د خلکو نه خوښي او د مالي حقوقو له ورکولو پرته د مېړونو له لوري د ښځو پرېښودل ښیي، چې د دغه هېواد سیکولر نظام د ښځو د حقوقو د ورکړې او ساتلو وړتیا نه لري.

همدارنګه په دغه مستند فلم کې په شرمېدونکې توګه هڅه شوې، چې په اسلامي واده کې نیمګړتیاوې داخلې او خپرې یې کړي، خو حقیقت دا دی چې د اسلام کورنی او ټولنیز نظام د ښځو لسګونو حقوقو لکه: هوساینې، د یو او بل منلو، د ښځو د مرتبې لپاره د احترام حس، نیک چلند، د مېراث حق، د مهر حق او داسې نورو حقونو ته لاره اواره وي، ترڅو دوی په هوساینه کې له خپل ژوند څخه خوند واخلي. که په عمیق ډول تدبر وشي، اسلامي نظام له سیکولري نظام څخه په پېړیو وړاندې شتون درلود. همداراز الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُواْ النِّسَاء كَرْهًا وَلاَ تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُواْ بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ إِلاَّ أَن يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا﴾**

**[نسا: ۱۹]**

*__ژباړه:__ اې مومنانو! ستاسو لپاره روا نه ده، چې په زور له ښځو څخه میراث واخلی او هغوی مه اړ کوئ، چې له هغه څه (مهر) چې دوی ته مو ورکړی د یوې برخې څښتنان شئ؛ خو که هغوی په ښکاره کوم بد عمل ترسره کړ (نو تاسې د هغوی د ربړولو حق لری). له دوی سره په ښه توګه چلند وکړئ او که له دوی څخه مو ښه نه راځي (سم لاسي د لرېوالي هوډ مه کوئ) شاید هغه څه چې ستاسو خوښ نه وي، په هغه کې الله سبحانه وتعالی ډېر خیر اېښی وي.*

همداراز په دغې خپرونه کې د ودونو په شمېر هم نیوکه شوې او ویلي یې دي، چې دغه کړنه د مسلمانو ښځو پر وړاندې بې عدالتي کڼل کېږي؛ خو پر دغه امر یې سترګې پټې کړې دي، چې هغه کس چې له اسلام سره سم له

يوې ښځې څخه زياتې وکړي، پر دې مکلف دی، چې د خپلو ښځو ټولې بدني، غريزوي او مالي اړتياوې پوره کړي او له ټولو سره په مساوي او عادلانه توګه چلند وکړي. دغه مستند فلم له دغه حقيقت څخه هم سترګې پټې کړې دي، چې په ازاده ټولنه کې نارينه دا حق لري، چې په يوه وخت کې له بې شمېره ښځو سره جنسي اړيکې ولري، د دوی او د دوی د اولادونو مسووليت، بدني، غريزوي او د اوسېدلو مالي اړتياوې په غاړه  وانخلي، خو په هره مياشت کې کله کله د پستي صندوق له لارې چک ورلېږي.

په دغه پروګرام کې حاضرو څېړونکو په دې اعتراف کړی و، چې په تر سره شوو پوښتنو کې هغه مسلمانې ښځې، چې د يوه مسلمان په نکاح کې دي له خپل ژوند څخه ډېرې خوشحاله او راضي دي. د دې تر څنګ دوی اندېښنه لري، چې که د انګليس دولت د څو ودونه کول منعه کړي، د دوی ودونه له ستونزې سره مخ کېږي او جوړښت يې له منځه ځي؛ خو دغه پروګرام د دغو ښځو له حقوقو څخه د فيمينستي موضوعاتو لپاره سترګې پټې کړي.

دغه مستند په اسانۍ سره له دغه حقيقته سترګې پټې کړې، چې په واده کې د ښځو د حقوقو پر ځای کولو لپاره هغه نظام ته اړتيا ده، چې اسلامي قوانين په ټوليزه توګه پلي کوي او قضايي نظام يې د ښځو د واده له حقوقو څخه ساتنه کوي. د پيغمبر صلی الله عليه وسلم پر منهج خلافت يوازنی نظام دی، چې په اسلامي خاورو کې يې له نشت سره سره د بې شمېره دا ډول قضيو لرونکی دی، چې د هغه په واسطه ښځې په ازاد ډول خپلو حقوقو ته رسېدلې دي. دغه ټکی د ټينګار وړ دی، چې مسلمانې ښځې د دغه ځواکمن دولت تاسيس ته سخته اړتيا لري، ترڅو له هغو حقوقو څخه برخمنې شي، چې الله سبحانه وتعالی ورکړې دي.

پر دې اساس «د اسلامي واده د حقيقت نه بيانول» د انګليس تلويزيوني چينل لپاره د شرم وړ کړنه ده او په دغو دروغو سره، چې اسلام د ښځو حقوق له منځه وړي او د دوی لپاره د بد چلند، ناوړه استفادې او بې عدالتۍ لارې پرانيزي، يو ځل بيا خپل سيکولري ارزښت پر ځمکه وويشت. په واقيعت کې عکس العملونه د رسنيو اصلي دنده ده، چې اسلامی افکار او قوانين په غربي هېوادونو کې کمزوري او مسلمانان له خپل دين څخه د شک په رامنځته کولو سره بې لارې کړي. که څه هم چې دغه موضوعات د کم عقلو سيکولرانو لپاره غابښ ماتوونکی ځواب دی او تر څنګ يې دوی يو ځل بيا د اسلام پر وړاندې د سيکولر نظام ماتې او خپل جاهلانه او منافقانه تعصب څرګند کړ.

﴿يُرِيدُونَ لِيُطْفِؤُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ﴾

[صف: ٨]

***ژباړه:*** *دوی غواړي د الله سبحانه وتعالی نور په خپلو خولو سره له منځه یوسي، خو الله سبحانه وتعالی خپل نور بشپړوي، که هر څومره کافران ناخوښې شي.*

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګې رییسه**

**داکتر نسرین نواز**

**۱۴۳۹هـ.ق، د ربیع الاول ۵مه**

**۲۰۱۷م، د نومبر ۲۳مه**

**ژباړن: منصور دریځ**